# رحمِ دِلي

## به څنګه ميلاويږي؟

10-November-2022

هفته وراه د سُنُّتو ډکه اِجتِماع کښي کيدونکے
د سُنُّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

په 10 نومبر کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کیدونکے بیان

# رحم دِلي به ځنګه میلاویږي؟

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

۞--- خوږ آقا رَحْمَةٌ لِّلعَٰلَمِين دے

۞--- د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام رحم دِلي

۞---په نورو باندې د رحم دِلئ اعلیٰ ترین مثال

۞--- په لونړو باندې قربانولو والا زنانه

۞--- رحم دِلي به ځنګه میلاویږي---؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: یو ځل د سحر په وخت د الله پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخ مبارک باندې د خوشحالئ آثار وو، صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائیل: الله پاک پیغام رالیږلے دے: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو کوم اُمَّتي چې په تاسو باندې یو ځل دُرُود اولولي، زه به د هغه د پاره 10 نیکئ اولیکم، د هغه 10 ګناهونه به وران کړم، 10 درجې به ورله اوچتې کړم او دومره رحمت به پرې اولیږم-(1)

اُن پر درود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے(2)

**وضاحت**: هغه خوږ آقا، د مکې مدینې والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چاته چې د بے وَسو ملاتړ وئیلے شي، کوم چې د بے خبرو خبر لرونکے دے، په هغوئي باندې درود او سلام-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اَلنِّیَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نیت بنده جنت ته بوځي-(3)

---

1...مُسْنَد اَحْمد، جلد:5، صفحه:509، حدیث:16352-
2...حدائقِ بخشش، صفحه:209-
3...مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حدیث:6895-

**اے عاشقانِ رَسُول!** د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي- راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې❁ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بيان اورم. ❁ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❁ ښه په توجو به بيان اورم ❁ څه چې واورم د هغې به د يادولو، ېڅپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په اوښ باندې د مصطفٰے شفقت

حضرت تميم داري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے، هغوئي په 9 هجرئ کښې ايمان راوړلو، ډير عبادت کوونکے وو، د قرآنِ پاک د تلاوت سره ئې ډير شوق وو، د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دا معمول وو چې د شپې به ئې په يو رکعت کښې د ټول قرآنِ کريم ختم کولو- حضرت تميم داري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته دا سعادت هم ميلاؤ شو چې هغوئي د ټولو نه مخکښې په مسجدِ نبوي شريف کښې چراغونه بَل کړل-[4]

حضرت تميم داري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ يو ډير ښکلے حديثِ پاک روايت کړے دے، فرمائي: يوه ورځ مونږه په بارګاهِ رسالت کښې حاضِر وو، په دې کښې يو اوښ په منډه د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شو او هغه چې څنګه راغلے نو د سرکارِ اَعظم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سر مُبارک ته ئې خپله خُله نزدې کړه (لکه چې په غوږ کښې ئې ورته څه وئيل)- فرياد اوريدونکے نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوښ فرياد واوريدلو او اوئې فرمائيل: اے اوښه! په سکون شه--!! که چرې ته رښتونے ئې نو ستا رښتيا ستا د پاره دې او که چرې دروغژن ئې نو تاته به د دې سزا ميلاويږي- **بے شکه څوک چې زمونږه په لمن کښې پناه واخلي، الله پاک هغه له امن ورکوي، څوک چې زمونږه بارګاه ته راغلے، هغه چرې هم نامُراده نه پاتې کيږي-**

حضرت تميم داري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: مونږه عرض اوکړلو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اوښ څه وائي؟ اوئې فرمائيل: د ده مالِک دا ذبح کول غواړي، دا د هغه نه راخلاص شو او راوتختيدو او ستاسو د نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) سره پناه اخستل غواړي- اوس لا دا خبرې کيدلې چې د اوښ مالِک هم هغه ځائے ته راورسيدو، **اوښ چې څنګه هغه اوليدو نو د بے وَسو د آقا، د مکې مدينې د مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **شاته پټيدلو،** د اوښ مالِک حاضر شو،

---

4...مرآة المناجيح، جلد:1، صفحه:256۔

عرض ئې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا زمونږه اوښ دے، د 3 ورځو راهسې مونږه د ده د رانيولو کوشش کوو خو دا په لاسو رانغلے، نن ستاسو په بارګاه کښې ميلاؤ شو- رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ده ستا ډير بد شکايتونه کړي دي- دا وائي چې ده په کلونو ستا خِدمت اوکړو، اوس چې کله دا بوډا شو نو ته دا ذبح کول غواړې- د اوښ مالِک اووئيل: يا رسولَ الله صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! اوښ رښتيا وائي- اوئې فرمائيل: آيا د نيک خدمت ګار دا جزا وي؟ بيا خوږ آقا، د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه نه اوښ په 100 درهمه واخستلو او اوښ ته ئې اوفرمائيل: **زه--- ته د الله پاک د رضا د پاره آزاد ئې- اوښ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئي اُمَّت ته دعاګانې اوکړې او لاړلو-** [5]

اپنے مولا کی ہے بس شانِ عظیم، جانور بھی کریں جن کی تعظیم
سنگ کرتے ہیں ادب سے تسلیم، پیڑ سجدے میں گرا کرتے ہیں
ہاں یہیں کرتی ہیں چڑیاں فریاد، ہاں یہیں چاہتی ہے ہرنی داد
اسی در پر شترانِ ناشاد گلۂ رنج و عنا کرتے ہیں

**وضاحت:** زمونږه د آقا او مولٰی، د مکې مدينې د مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځانګړے شان دے، ځناور هم د هغوئي احترام کوي، کاڼري په ادب سره هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته سلام کوي، وَنې د هغوئي په حُضور کښې په سجده پريوځي، آؤ! آؤ! دا هغه عظيمه بارګاه ده چرته چې مرغۍ هم فرياد کوي، هوسۍ د دې ځائے نه مدد غواړي او دا هغه د جهان د سلطان در دے چرته چې اوښ هم راشي او د درد او غم نه د خلاصي فرياد کوي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**اے عاشقانِ رَسُول!** زمونږه د خوږ آقا، د مکې مدينې د مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رحم او کرم هم څه ځانګړے شان دے- اوښ حلال ځناور دے او حلال ځناور ذبح کول، د هغه غوښه خوړل بالکل جائز کار دے، د رحمتونو والا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله د رحمت نه په ډکو لاسونو باندې اوښان ذبح کړي دي خو دلته معامله څه بَله وه، هغه اوښ په کلونو د خپلو مالکانو خِدمت کړے وو، هغه ذبح کيدل نه غوښتل، د هغه خواهش وو چې ماته دې زما د خِدمت ښه بدله راکړے شي، ځکه هغه په بارګاهِ رسالت کښې پناه اوغوښتله او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! څوک

---

[5]...الترغیب والترہیب، کتاب القضاء وغیرہ،ترغیب فی شفقۃ علی خلق اللہ، صفحہ:739، حدیث:24۔

چې د محبوبِ خُدا، د امامُ الانبیا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لمن کښې پناه واخلي، هغه چرې هم نامُراده نه پاتې کیږي- د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وړور مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څومره ښکلې خبره لیکې:

ڈھونڈا ہی کریں صَدرِ قیامت کے سپاہی | وہ کس کو ملے جو تیرے دامن میں چھپا ہو

**وضاحت**: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قیامت په ورځ چې کوم خوش قِسمته ته ستا د رحمت په لمن، د شفاعت په لمن کښې پناه میلاؤ شي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هغه به جنّت ته ځي-

اوښ هم په بارګاهِ رسالت کښې پناه اوغوښتله نو سُبْحٰنَ الله! د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت ځانګړې شان ته اوګورئ! هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوښ فریاد هم واوریدلو، هغه له ئې پناه هم ورکړله او هغه ئې واخِستو او آزاد ئې هم کړلو-

## خوږ آقا رَحْمَةٌ لِّلعَلَمِین دے

په 17 سیپاره، سورۀ انبیاء آیت: 107 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾<br>(پاره:17،سورۀ انبیاء:107) | ترجَمۀ کنزُ الایمان: او مونږه ته د ټول جهان د پاره رحمت اولیږلې- |

په **تفسیر صراط الجنان** کښې دي: تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبیانو، رسولانو او فرښتو د پاره رحمت دے ❁ په دین او دنیا کښې رحمت دے، د پیریانو او انسانانو د پاره رحمت دے ❁ د مؤمِن او کافِر د پاره رحمت دے ❁ د حیواناتو، نباتاتو او جماداتو (یعني د ساه نه لرونکو څیزونو) د پاره رحمت دے، غرض: په عالَم کښې چې څومره څیزونه دي، سید المرسلین صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه ټولو د پاره رحمت دے-[6] سُلطانُ المُفَسِرین، صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رحمت عام دے، د ایمان والوؤ د پاره هم او د هغه چا د پاره هم چا چې ایمان نه دے راوړے- د مؤمِن د پاره خو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دنیا او آخِرت دواړو کښې رحمت دے او چا چې ایمان نه دے راوړے د هغوئي د پاره هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دنیا کښې رحمت دے چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت سره د هغوئي د دنیا عذاب وروستو کړے شو، د هغوئي نه په زمکه کښې د دننه کیدلو او د شکلونو وړانیدلو عذاب واخستے کړے

---

[6]...تفسیر صراط الجنان، پاره :17، سورۀ انبیاء، تحت الآیة:107، جلد:6، صفحہ:386۔

شو۔ [7]

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: عالَم د الله پاک نه علاوه هر څه ته وئيلے شي (يعني د الله پاک نه علاوه چې څه هم دي، ټول عالَم دے)، په دې کښې انبيا او فرښتې ټول راځي، نو لازمي طور حُضُور پرنور، سيد المرسلين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ټولو باندې رحمت او نعمت شو او هغه ټول د حُضور د سرکارِ عاليشان نه فيض اخستونکي۔ [8]

| | |
|---|---|
| وہ نبیوں میں رحمت لقب پانے والا | مرادیں غریبوں کی بر لانے والا |
| مصیبت میں غیروں کے کام آنے والا | وہ اپنے پرائے کا غم کھانے والا |
| فقیروں کا ملجا، ضعیفوں کا ماویٰ، | یتیموں کا والی، غلاموں کا مولا |
| خطاکار سے در گزر کرنے والا | بد اندیش کے دِل میں گھر کرنے والا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اُمَّتي کيدو تقاضا

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږه آقا او مولیٰ، د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَحْمَةٌ لِّلعَلَمِين (يعني د ټولو جهانونو د پاره رحمت) دے او مونږه د هغوئي اُمَّتيان يو۔ د رَحْمَةٌ لِّلعَلَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّتي کيدو تقاضا ده چې مونږه هم رَحم دله جوړ شو، د مينې، محبت، ورورولئ، احسان او مهربانئ والا جذبې په زړه کښې زياتې کړو۔ د خپل وخت ډير لوئي امام، امام عبدُ الوهاب شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې باره کښې ډير ښکلي مدني ګلونه ورکړي دي:

### (۱): د ټولو د پاره رحم دِله شه---!!

هغوئي فرمائي: **د رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **له خوا ټولو مسلمانانو ته دا نصيحت دے چې مونږه د شريعت په کرښه کښې د پاتې کيدو سره په ټول مخلوق باندې رحم او شفقت اوکړو۔** [9]

---

[7]... تفسير خازن، پاره :17، سورۂ انبياء، تحت الآية:107، جلد:3، صفحه:246۔

[8]...فتاوی رضويه، جلد:30، صفحه:141بتغير قليل۔

[9]...لواقح الانوار القدسية، جلد:1، صفحه:575۔

يعني چې هر يو څيز وي، انسان وي، ځناور وي، ګډې، چيلۍ [بيزې] ، غواګانې، واړه واړه ميږي، ماشي، مرغۍ، غرض په ټولو مخلوقاتو باندې رحم کول، په هغوئي باندې شفقت کول، دا د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د [طرف نه د] هر مسلمان د پاره نصيحت دے۔

## جنّت ته د تللو د پاره رحم دِلي ضروري ده

د حضرت ابو موسٰی اَشعرِي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، د دواړو جهانونو د پاره رحمت، صاحب د کوثر، او مالِک د جنَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لَا تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتّٰى تَرَاحَمُوْا يعني تاسو تر هغه وخته پورې جنَّت ته نشئ تللے، تر څو پورې چې په خپل مينځ کښې رحم دِله نه شئ۔ صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! كُلُّنَا رَحِيْمٌ يعني مونږ ټول رحم کوونکي يو۔ اوئې فرمائيل: مطلب دا نه دے چې په تاسو کښې څوک په خپل ملګري باندې رحم اوکړي بلکه د دې نه مراد عام رحمت دے (يعني د ټول مخلوق انسانانو، ځناورو، مچو، ميږو وغيره ټولو د پاره رحم دِله شئ)۔ [10]

## (2): د رحم دِلۍ مقدار څومره وي---؟

اے عاشقانِ رَسُول! مونږ ته خو په ټول مخلوق باندې رحم کول دي، د هغوئي سره د احسان او ښيګړې والا معامله خو کول دي، په ذِهن کښې سوال پيدا کيږي چې د رحم دِلۍ مقدار څومره پکار دے؟ مونږه په نورو باندې تر کومه حده پورې رحم اوکړو؟ امام شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په مخلوقاتو کښې چې هر يو ټپله د خپل ځان د پاره څومره رحم دِله وي، **مونږه د هغوئي په حق کښې د هغې نه هم زيات رحم دِله شو، دا وراثت مصطفٰے دے۔** [11]

اَللهُ اَكْبَر! اے عاشقانِ رَسُول! د اِسلام حُسن ته اوګورئ! اِسلام صرف مونږ ته د رحم دِلۍ تعليم نه راکوي بلکه اسلام دا وائي چې د الله پاک يو مخلوق چې ټپله په خپل حق کښې څومره رحم دِله دے، ته د هغوئي نه زيات په هغوئي باندې رحم دِله شه! سُبْحٰنَ الله!

په مونږ کښې به کيدے شي چې د ټولو دا تجربه شوې وي چې مونږه خپل ځان له پرَق ورکوو نو دومره په زوره ئې نشو ورکولے، لکه څومره په زوره چې ئې نورو له ورکولے شو۔ تجربه پرې اوکړئ او اوګورئ! انسان چې لاس

---

[10]...مستدرک، کتاب البر والصلة، جلد:4، صفحہ:282، حديث:7389۔
[11]...لواقح الانوار القدسيہ ،العہد السابع و السبعون بعد المائة ، جلد:1،صفحہ:573۔

اوچت کړي او په خپل پوره طاقت سره ځان له پړق ورکوي، د وروستو نه به لاس ډیر په زور سره راځي خو چې رانزدې شي نو ښځپله به په مزه شي، مطلب دا چې مونږه به خپل ځان له ښه مضبوط پړق نشو ورکولے- ولې؟ ځکه چې مونږ خوږیږو، معلومه ده چې پړق اوخورو نو درد به کوي، ځکه لاس ښځپله اودریږي، دا زمونږه په خپل ځان باندې شفقت دے، دا زمونږه په خپل ذات باندې رحم دے- **د دې رحم او شفقت نه څو چنده زیات په نورو باندې رحم کول، دا د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې د تاجدار** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **وراثت دے-**

## د حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام رحم دِلي

د الله پاک نبي حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام ډیر جلال والا وو او د دې سره سره ډیر رحم دِله هم وو، د نبوت د اعلان نه مخکښې به هغوئي د چیلو [بیزو] روزنه پالنه کوله، یو ځل داسې اوشول چې یوه چیلۍ [بیزه] د رَمې نه بیله شوه او اوتختیدله، حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام د هغې د رانیولو د پاره په هغې پسې تشریف یوړلو، چیلۍ [بیزې] منډې وهلې، منډې وهلې، تر دې پورې چې په یو ځائے کښې د ازغو په جاخه کښې اونختله، اوس حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام هغه د جاخو نه راویستله، د هغې په بدن کښې ازغي تلي وو او په چیلۍ [بیزه] پسې په تللو کښې د حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام خپې هم زخمي شوې وې خو قربان شم! د حضرت موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام سره د خپل تکلیف هیڅ څه غم نه وو، هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام هغه چیلۍ [بیزه] په اوګه کړله، ژړل به ئې او فرمائیل به ئې: اے چیلۍ! تا ځان هم ستړے کړو، زه دې هم ستړے کړم، تا سره زما هیڅ خیال نه وو، آیا خپل خیال درته هم رانغلے--!! [12]

اَللّٰهُ اَکْبَر! د انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام ځانګړے شان دے- دې ته وائي د ځان نه زیات په نورو باندې رحم کول- دا څنګه شفقت او رحمت دے--!! کاش! چې زمونږ د ګنهګارانو، سختو زړونو والوو هم رحمت او شفقت نصیب شي-

## په میږو باندې بے مثاله رحم

حضرت علي خوَّاص رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه ډیر لوئي ولیۍ کامِل تیر شوے دے، د هغوئي په کور کښې به میږي په نظر نه راتلل، د هغوئي مبارک انداز دا وو چې هغوئي به په خپل کور کښې د وړو وړو سوړو مخې ته خوراک او د ډوډۍ ټوټې کینښودلې او فرمائیل به ئې: میږي چې کله وږي شي نو مجبوراً د رِزق لټولو د پاره د خپلو سوړو نه بهر راووځي، بیا

---

[12]...مرقاة المفاتیح، کتاب الاطعمة، جلد:8، صفحه:101 بتغیر قلیل۔

کله د چا د خپو د لاندې راځي يا ئې څاروي په خپو اوچقوي، داسې هغوئي مره شي، زه د مخکښې نه د ميږو د سوړو مخې ته ډوډئ وغيره کيږدم د پاره د دې چې دوئي ته د بهر راوتلو حاجت پيښ نه شي، هم د دوئي په کور کښې دوئي ته خوراک ميلاؤ شي، نه دوئي بهر راشي، نه ځان د اندېښنو سره مخ کړي- [13]

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک د نيکانو بنده ګانو څومره ښکلے شان دے--!! د دوئي سوچ ته اوګورئ! څومره ځانګړے وو؟ يو ميږے کيدے شي چې پخپله هم د ځان دومره خيال نه ساتي، لکه څومره چې حضرت علي خَوَّاص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغوئي ساتلو، د هغوئي خوراک به ئې د هغوئي کور ته رسولو او هغوئي به ئې د ممکنې خطرې نه بچ کولو-

## په نورو باندې د رحم دِلئ ډير اعلیٰ مثال

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په نورو باندې د شفقت او مهربانئ او رحم دِلئ يو ډير اعلیٰ مثال اورو- زمونږه پير، پيران پير، پير دستګير حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم ډير رحم دِله، شفيق او مهربانه وو- د 546 سنِ هجرئ، رجبُ المرجب مياشت وه، د جُمعې په ورځ حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان اوفرمائيلو، په بيان کښې هغوئي اوفرمائيل: اے خلقو! زه صرف تاسو ته د الله پاک د رضا د پاره مُتَوَجِّه کيږم، په ما کښې ستاسو د پاره دومره رحم دِلي او شفقت دے چې **که چرې داسې کيدے شول نو زه به ستاسو په ځائے ستاسو د هر يو قبر ته پخپله کوزيدم او ستاسو د طرف نه به مې نَکِيرَين له جواب هم پخپله ورکولو--!!** [14]

| | |
|---|---|
| قلبِ مُردہ کو بھی ٹھوکر سے جِلا دو مُرشِد | تم نے ٹھوکر سے ہے مُردوں کو جِلایا یاغوث! |
| آفتوں میں ہوں گرفتار، مدد کو آؤ | آہ! دُنیا کے غموں نے ہے ستایا یاغوث! |
| مَیں جہنّم میں نہ اب جاؤں گا اِنْ شَآءَ الله | رہنما تم کو جو میں نے ہے بنایا یاغوث! |

**اَللّٰهُ اَكْبَر! اے عاشقانِ رَسُول!** غور اوکړئ! دا څومره خواه خوږې ده! دا څومره عظيمه جذبه ده--!! د قبر وړومبئ شپه څومره ډيره سخته شپه وي، مَړے د غمونو سره مخ وي، د دنيا د لاس نه د وتلو غم، د اولاد د جدائيئ غم، بيا د رُوح د وَتلو سخته، د قبر ويره، تياره، يواځې پاتې کيدل، بيا د دې سره فرښتې د قبر ديوالونه اوشلوي او راشي، د مَړي نه پوښتنې کوي-

---

[13] ...لواقح الانوار القدسيہ ،العہد السابع و السبعون بعد المائۃ ، جلد:1،صفحہ:574۔

[14] ...الفتح الربانی، صفحہ:318۔

په دې دنيا کښې زمونږه ډېر دوستان دي، خپلوان دي، څوک خو بَس د خپل مطلبه پورې وي او کوم وفادار چې تول ژوند وفا هم کوي نو صِرف د قبر د غاړې پورې، کیدے شي چې سَکَه پلار هم د خپل ځوي د پاره داسې خواهش اونکړي چې ځويه--! زه غواړم چې، ستا په ځائے ستا په قبر کښې، پخپله سملم او ستا د طرف نه د نَکِيرَين جوابونه ورکړم- دا پيرانو د پير، پير دستګير، شهبازِ لامکاني، محبوبِ سبحاني، سيدنا شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے څوک چې فرمائي: اے زما د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيانو! زما خواهش خو دا دے چې په تاسو کښې څوک هم د قبر د ويرې او يواځې کيدو سره مخ نه شي، په تاسو کښې د چا قبر هم د دوزخ کنده جوړه نه شي، زه پخپله ستاسو قبر ته کوز شم او ستاسو د طرف نه د نَکِيرَين د سوالونو جوابونه هم پخپله ورکړم د پاره د دې چې ستاسو قبر د جنّت د باغونو نه يو باغ جوړ شي او تاسو خلاصے بيامومئ--!!

ايمان اس کا بچ گيا شيطان سے، جو تيرے | ہے سلسلے ميں آگيا بغداد والے مرشد [15]

الله پاک دې په حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په کروړونو رحمتونه نازِل کړي- کاش! مونږه هم د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کامِل مُريدان جوړ شو-

## (3): په جماداتو باندې رحمت

خير! امام شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مدني ګل راکړے دے: څوک چې د ځان په باره کښې خومره رحم دله دے، مونږه د هغې نه زيات په هغوئي باندې رحم دِله شو، دا د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وراثت دے- مونږ له کوشش پکار دے چې مونږه رحم دله جوړ شو، په انسانانو باندې رحم اوکړو، په ځناورو، مرغو، ميږو باندې رحم اوکړو بلکه امام شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **حضرت علي خواص** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **خو تر دې پورې اوفرمائيل چې د عام رحمت په شرطونو کښې دا هم دي چې انسان د جماداتو (يعني د ساه نه لرونکو څيزونو) سره هم داسې رحم دلي اوکړي، لکه څنګه چې د ژوندو څيزونو سره کوي-** [16]

اوګورئ! زمونږه خوږ آقا، د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو جهانونو د پاره رحمت دے، هغوئي د انسانانو د پاره رحمت، د ځناورو د پاره هم رحمت، د وَنو د پاره هم رحمت او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زمونږه خوږ نبي، د رحمتونو والا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جماداتو (يعني د ساه نه لرونکو څيزونو) د پاره هم سراسر رحمت دے-

---

[15]...وسائلِ بخشش، صفحه:546-

[16]...لواقح الانوار القدسيه ،العهد السابع و السبعون بعد المائة ، جلد:1،صفحه:573-

د اُستُنِ حنَّانَه واقعه ډېره مشهوره ده- په بخاري شريف کښې روايت موجود دے، په مسجدِ نبوي شريف کښې د کجورې د يوې وَچې وَنې يو ستن وه، سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه ستنې ته ډډه وهله او خطبه به ئې فرمائيله- بيا د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د لرګي منبر جوړ کړے شو، د جُمعې ورځ وه، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جُمات ته تشريف راوړلو، په منبر ئې تشريف کيښودلو او ناڅاپه د چا د ژړا آواز راغلے (لکه يو ماشوم چې ډير په درد سره په سلګو سلګو ژاړي)، چې اوئې کتل نو هغه د کجورې [هٰغه] وچه ستنه وه کومې ته چې به د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [د ډډې وهلو سره] خطبه فرمائيله، د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جدائيئ کښې ئې په سلګو سلګو ژړل، د دواړو جهانونو رحمت، د مکې مدينې سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې ژړا نه شوه ليدلے، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د منبر مبارک نه لاندې راکوز شولو، د هغه ستَنې خوا له ئې تشريف يوړلو، په هغې باندې ئې د شفقت لاس کيښودلو او په بخاري شريف کښې لفظونه دي چې **رحمتِ عالَم، نورِ مُجَسَّم** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د هغې ستَنې چپ کولو د پاره [هغه] سينې ته راجُخته کړله،** اوس څه وو، لکه څنګه چې په ژړا شوے ماشوم مور سينې ته راجُخت کړي نو هغه ورې ورې سلګئ وهي، هغې ستَنې هم داسې سلګئ وهلې، تر دې پورې چې چپ شوه- (17)

سُبۡحٰنَ الله! دا دے عام رحمت، په ټولو باندې رحمت، په ټولو باندې شفقت--!! کاش! چې د دواړو جهانونو د رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې رحمت او شفقت يو څاڅکے زمونږه هم نصيب شي، کاش! مونږه هم رحم دِله شو-

## رحم دِلي او زمونږه بے حاله حال

آه! زمونږه حال بے حاله دے، اوس خو زمونږه زړونه داسې سخت شوي دي چې جمادات خو ډيره غټه خبره ده، په ژوندو ځناورو باندې مو هم رحم نه راځي بلکه ځناور خو ځناور دي، په انسانانو باندې څوک رحم کوي بلکه اوس خو معامله د دې نه هم وړاندې تلې ده، په غيرو باندې به رحم څوک کوي، اوس خو انسانان په وَحشَت او ظلم کښې د جاهليت د زمانې مثالونه بيرته تازه کوي، په خپل اولاد باندې، په وړو وړو ګلونو جينکو ماشومانو باندې داسې ظلم زور کوي چې زړه خُلې له راځي، په اخبارونو کښې او په سوشل ميډيا وغيره باندې خبرونه راځي، څوک واړه ماشومان مړه کړي او بخپله هم ځان ووژني، څوک د جينکو ماشومانو پرله پسې د زيږيدو نه تنګ شي او مور ئې هم مړه کړي، وَړه ماشومه هم ووژني-

---

[17]...بخاری، کتاب المناقب، باب علامات النبوة، صفحہ:913، حدیث:3585۔

## ماشومه په پرېشر ککر کښې د کېښودو سره----

د شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه ډېره ښکلې رساله ده: **زِنده بيٹی کنويں ميں پهينک دی** د لونړو د عزت او عظمت په باره کښې په دې رساله کښې ډېر ګټه ور معلومات دي، هر يو له لوستل پکار ده، که چرې په سينه کښې زړه وي او ژوندے وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې رسالې لوستلو سره به د سترګو اوښکې بندې نه کړے شئ- په دې رساله کښې اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه ډېره زړه بوږنېدونکې واقعه ليکلې ده، فرمائي: د کشمير په يوه علاقه کښې د يو ګس 5 لونړه وې او شپږمه پيدا کېدونکې وه- هغه يوه ورځ خپلې ښځې ته اووئيل چې که چرې دا ځل هم ستا لور پيدا شوه نو زه به تا د نوې زيږېدلې ماشومې سره اووژنم- د هجرئ سن 1426 د رمضان المبارک په دريمه شپه (8 اکتوبر 2005) ئې بله لور پيدا شوله- سحر د ماشومې د مور د ژړا انګولا د پروا کولو بغير هغه بے رحمه پلار (مَعَاذَالله) خپله د ګل په شان ژوندئ ماشومه راواخِستله او پرېشر کُکر ته ئې اوغورځوله او په چولها باندې ئې کېښوده! سمدست پرېشر کُکر اوچاودلو او ورسره وحشتناکه زلزله راغله، د سترګو په رَپ کښې هغه ګس په زمکه دننه شو- د ماشومې مور په زخمي حالت کښې بچ کړے شوه او غالِباً د هغې په ذريعه د دې زړه بوږنېدونکې واقعې انکشاف اوشو- په دغه زلزله کښې د يو خبر مطابق د 2 لاکهه نه زيات تنان مړه شول- [18]

الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي! دا څنګه بے رحمي ده، دا يو دوه واقعې نه دي، اوس هم داسې خبرونه [ډېر] راځي- د رحمتونو والا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت او شفقت په وسيله کاش! چې مونږ هم رحم دِله شو-

## څوک چې رحم نه کوي، په هغه رحم نه شي کولے

د ترمذي شريف حديثِ پاک دے، يو ځل حُضُور نبئ رحمت، شفيعِ اُمّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل لمسي امام حَسَن او امامِ حُسين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمَا ښکل کړل، په خوا کښې ورسره يو ګس ناست وو، هغه اووئيل: زما 10 ځامن دي، زه خو په هغوئي کښې يو هم نه ښکلوم، رحيم او کريم آقا، د مکې مديني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ګس ته اوکتل، بيا ئې اوفرمائيل: **څوک چې رحم نه کوي، په هغه باندې رحم نه شي کولے-** [19]

---

[18]...زنده بيٹی کنويں ميں پهينک دی، صفحہ:5۔

[19]...بخاری، کتاب الادب، باب رحمة الولد، صفحہ:1497، حديث:5997۔

اے عاشقانِ رَسُول! اولاد د الله پاک نعمت دے، په دوئي رحم کول پکار دي، که ځوي وي او که لور، دواړه د الله پاک عطا ده، د دواړو سره ښه مينه پکار ده، خاص طور دې په لور زيات رحم اوکړے شي ځکه چې لونړه محبت کولو والا دي۔

## د لونړو په فضيلت باندې 4 حديثونه

د الله پاک خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: (1): لونړه بدې مه ګڼړئ، بے شکه هغه محبت کولو والا دي۔[20] ﴿2﴾: په يو حديث شريف کښې دي: د چا چې لور پيدا شي او هغه هغې له تکليف ورنکړي او نه ئې بده اوګڼړي او نه ځوي له په لور باندې فضيلت ورکړي نو الله پاک به هغه ګس جنّت ته بوځي۔[21] ﴿3﴾: د مسلم شريف روايت دے: په کوم ګس چې د لونړو د روزنې پالنې بوج پريوځي او هغه د هغوئي سره ښه سلوک اوکړي نو دا لونړه به د هغه د پاره د دوزخ نه پرده جوړه شي۔[22] ﴿4﴾: په يو بَل حديث شريف کښې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لونړو باندې د رحم او کرم کولو سبق ورکړلو او اوئې فرمائيل: څوک چې د خپلو بچو د پاره د بازار نه څه څيز راوړي نو هغه په دوئي باندې د صدقې کولو والا په شان دے او **هغه له پکار دي چې د لونړو نه شروع اوکړي** ځکه چې څوک لونړه خوشحاله کړي نو هغه د الله پاک د ويرې نه د ژړيدونکي په مثال دے او څوک چې د الله پاک په ويره کښې اوژاړي الله پاک هغه په دوزخ باندې حرام کړي۔[23]

## په لونړو باندې قربانولو والا صالحه زنانه

د مومنانو مور، حضرت عائشه صديقه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: زما خوا له يو غريبه زنانه راغله، د هغې سره د هغې 2 لونړه هم وې، ما هغې له 3 کجورې ورکړلې۔ هغې دواړو لونړو له يوه يوه کجوره ورکړه، بيا کومه کجوره چې هغې پخپله خوړل غوښتل هغه ئې 2 ټوټې کړه او هغه کجوره ئې هم په خپلو دواړو لونړو باندې اوخوړله۔ زه دې واقعې

---

[20]...مسند امام احمد، مسند الشاميين،جلد:7، صفحہ:200، حديث:17837۔

[21]...مستدرك، كتاب البر والصلة، باب من كن له ثلاث بنات ، جلد:5، صفحہ:248، حديث:7428۔

[22]...مسلم، كتاب البر والصلة والآداب، باب فضل الاحسان الى البنات،صفحہ:1014، حديث:2629۔

[23]...مكارم الاخلاق للخرائطى، باب العطف على البنات،جلد:3، صفحہ:303، حديث:759۔

ډیره حیرانه کړم، ما د نبئ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د دې زنانه د قربانئ ذِکر اوکړلو نو هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **الله پاک د دې (عمل) په وجه د دې زنانه د پاره جَنَّت واجب کړو۔**[24]

مَاشَآءَ الله! د قربانئ هم څه ښکلے شان دے! کاش چې مونږه هم د خپلې خوښې څیزونه قربانول زده کړو! د دې روایت نه دا هم معلومه شوه چې د لونړو سره نیک سلوک کول، خپل خوښ څیزونه په هغوئي قربانول ډیر د فضیلت کار دے۔ الله پاک دې مونږه ټولو له توفیق راکړي، کاش! چې مونږه هم د بچو سره مینه کوونکي، خاص طور په لونړو باندې شفقت او مهربانئ کولو والا جوړ شو۔

آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

بیٹیاں تو رب کی رحمت ہوتی ہیں | یہ انعام خُدا کا، یہ تو نعمت ہوتی ہیں
ان سے آنگن گھر کا مہکے | سارا گلشن ان سے چہکے
بابا کی یہ آنکھ کا تارا | ماں کے دِل کی زینت ہوتی ہیں
بیٹیاں تو رب کی رحمت ہوتی ہیں | یہ انعام خُدا کا، یہ تو نعمت ہوتی ہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د رحم دِلئ په باره کښې حدیثونه مبارک

**(1)**: د بخاري شریف حدیثِ پاک دے، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: لَا یَرْحَمُ اللّٰہُ مَنْ لَّا یَرْحَمُ النَّاسَ څوک چې په خلقو باندې رحم نه کوي الله پاک په هغه باندې رحم نه کوي۔[25] **(2):** په یو حدیثِ پاک کښې ئې اوفرمائیل: اَلرَّاحِمُوْنَ یَرْحَمُهُمُ الرَّحْمٰن څوک چې رحم کولو والا دي، الله پاک په هغوئي باندې رحم کوي۔[26] **(3):** رحمتِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ اِلَّا مِنْ شَقِیٍّ رحمت نه ویستلے کیږي ولې د بد بخته (د زړه) نه۔[27]

## په چرچنړه باندې د رحم کولو فضیلت

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** مونږ ته رحم دِله جوړیدل دي، صرف د انسانانو د پاره نه بلکه د ټول مخلوق د پاره،

---

[24]...مسلم، کتاب البر والصلة والآداب، باب فضل الاحسان الی البنات،صفحہ:1014، حدیث:2630۔
[25]... بخاری،کتابُ التوحید ،صفحہ:1782، حدیث:7376۔
[26]... ابو داؤد، کتاب الادب،باب الرحمة، صفحہ:774، حدیث:4941۔
[27]... ابو داؤد، کتاب الادب،باب الرحمة، صفحہ:774، حدیث:4942۔

په څناورو هم رحم کول پکار دي- حُجَّةُ الاِسلام امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د قيامت په ورځ به يو ګَس د الله پاک په دربار کښې وړاندې کړے شي، بنده به عرض اوکړي: يَا رَبِّ اِرْحَمْنِي اے زما رَبَّه! په ما باندې رحم اوکړه- الله پاک به اوفرمائي: آيا تا زما د رضا د پاره چرته په چا باندې رحم کړے وو؟ که چرې تا په دنيا کښې په يوه چنچړه باندې هم رحم کړے وي نو نن به زه په تا باندې رحم اوکړم- (28)

الله! الله! اے عاشقانِ رَسُول! دا څومره سبق ورکوونکے روايت دے، د قيامت په ورځ چې د کوم خوش قسمته د الله پاک رحمت نصيب شو، د هغه خو به مزې شي، يقيناً په چا چې رحمت را اووريږي، هغه به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د جنَّت حقدار ګرځولے شي او هغه رحمت به ميلاويږي څنګه؟ چا چې په دنيا کښې په چا باندې رحم کړے وي- آه! اوس حالات بدتره دي، خلق په بے زبانه څناورو باندې داسې داسې ظلمونه کوي چې الامان والحفيظ! په سوشل ميډيا وغيره باندې په څناورو باندې د ظلم داسې زړه بوږنيدونکي ويډيوګانې راځي چې يو ژوندي زړه والا انسان به ئې اونه ګوري- داسې بے رحمي او ظلم---!! بَس الله پاک مو دې محفوظ کړي-

## مظلومه څناور مُسَلَّط کيدے شي

د مکتبة المدينه د کتاب: جهنّم ميں لے جانے والے اَعْمَال، په جلد: 2، صفحه: 323 نه 324 باندې دي: انسان که برناحقه يو ځاروے اووهلو يا ئې هغه وږے تږے اوساتلو يا ئې د هغه د طاقت نه زيات کار واخستو نو د قيامت په ورځ به د هغه نه د هغې په مثال بدله اخستے شي کوم چې هغه په څناور باندې ظلم اوکړو يا ئې هغه وږے اوساتلو- په دې باندې دا حديثِ پاک دلالت کوي: رحمتِ عالم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دوزخ کښې يوه زنانه په دې حال کښې اوليدله چې هغه رازوړنده ده او يوه پيشو د هغې مخ او سينه راشوکوي او هغې له هم هغسې عذاب ورکوي لکه څنګه چې هغې (زنانه) په دنيا کښې دا قيد کړې وه او د وږې ساتلو سره ئې هغې ته تکليف رسولے وو- (29) د دې روايت حکم د ټولو څناورو په حق کښې عام دے-

## مرغو ئې په قبر شور جوړ کړو

امامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: يو ګَس د مرغو سوداګر وو، هغه به مرغۍ تړلې او ساتلې به ئې او هغوئې له به ئې تکليف ورکولو، کله چې هغه ګَس مړ شو نو د هغه په جنازه باندې ډيرې زياتې مرغۍ جمع شوې او هغوئې شور

---

28...سلوة العارفين، جلد:2، صفحه:13-

29...بخاری،کتاب المساقاة،باب فضل سقی الماء،صفحه:610،حديث:2364مفہوماً-

شروع کړو، کله چې هغه ګس قبر ته کوز کړے شو نو يو غيبي آواز راغلے: اے مرغو! تاسو به تر څو پورې شور کوئ، واخلئ--!! مونږه دا ګس تاسو ته حواله کړو- (30)

الامان والحفيظ! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! هغه نادانه کوم چې په مرغو او په بے وَسو بے زبانه څناورو باندې ظلم کوي، يا د چا چې د څناورو ساتلو شوق خو وي ولې هغوئي له خوراک څښاک پوره نه ورکوي، په هغوئي ئې ترس نه راځي، هغوئي ته برناحقه تکليف رسوي، داسې په غټ اختر کښې قصاب په لالچ کښې راشي او په تادئ کښې چې څناورو ته برناحقه کوم تکليف رسوي، په ذبح کولو کښې چې څومره رګونه کټ کول ضروري دي، قصداً عمداً د هغې نه زيات کټ کوي، د څناورو د يخيدو نه مخکښې د هغوئي څرمن اوباسي، يا ئې څټ ماتوي يا ئې رګونه کټ کوي او هغوئي ته بر ناحقه تکليف رسوي، هغوئي ته ويريدل پکار دي، آه! که چرې د قيامت په ورځ دا بے زبانه څناور! په دغه ظالم باندې مسلط کړے شول نو څه به کيږي--؟ څکه نن موقع ده، چې مونږه سم شو، خدائے دې نه کړي که چرې يو بے زبانه ته مو تکليف رسولے وي نو چې د هغې نه توبه کړو- کاش! چې مونږه رحم دِله شو-

## نيک څوک وي--؟؟

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الۡاَبۡرَارَ لَفِیۡ نَعِیۡمٍ ﴿ۙ۲۲﴾ (پاره:30،سورهٔ مطففين:22) | ترجَمهٔ کنزُ الايمان: بے شکه نيکان [خلق] ضرور په سکون کښې دي- |

د دې آيت شريف په تفسير کښې امام حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: صالحه بنده ګان هغه دي کوم چې ميږو ته هم تکليف نه رسوي- (31)

الله پاک دې مونږ له هم د نيک بنده جوړيدو توفيق را کړي-

آمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

[30]...سلوة العارفين، جلد:2، صفحہ:13۔

[31]...تفسير حسن بصرى، جلد:5، صفحہ:264، غصے کا علاج، صفحہ:27۔

## بے تابه میرے

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه ډیر رحم دِله دے، هغوئي خو انسانان خو انسانان دي، یو ځناور ته هم بې د څه وجې نقصان نه رسوي- یو ځل د هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په خدمت کښې کیلې وړاندې کړے شوې- په هغې کښې یو میږے په یوه کیله باندې په بے تابئ سره ګرځیدلو- امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه فوراً په معامله باندې پوهه شولو، اوئې فرمائیل: اوګورئ دا **میږے** د خپلې قبیلې نه بے درکه شوے دے- میږے همیشه د **خپلې قبیلې** سره اوسیږي ځکه دا بے تابه دے- مهرباني اوکړئ یو اسلامي ورور دا پوستکے د دې میږي سره بهر یوسئ او بیرته ئې هم په هغه ځائے کښې کیږدئ د چرته نه چې مو راخِستے دے، داسې هغه پوستکے سره د میږي **خپل ځائے** ته اورسولے شو- (32)

## د میږو د تللو انتظار

هم دغه شان یو ځل امیر اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په واش بیسن (Washbasin) کښې د لاس وینځلو د پاره لاړلے خو اودریدلو، بیا ئې ارشاد اوفرمائیلو: په واش بیسن کښې **یو څو میږي** دي، که چرې ما لاس اووینځل نو دا به اوبه یوسي او مړه به شي، ځکه د څه وخته پورې ئې انتظار اوکړو او چې کله میږي لاړل نو بیا هغوئي **لاس اووینځل**- (33)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا د الله والوؤ مبارک انداز دے---!! الله پاک دې کړي چې زمونږه هم رحم دِلي نصیب شي-

## رحم دِلي به څنګه میلاویږي---؟

زمونږه به رحم دِلي څنګه نصیب کیږي؟ دې د پاره به مونږ ته څه کول وي! ✿ د ټولو نه مخکښې خو ګناه پریږدئ، رښتونې پخه توبه اوباسئ- ځکه چې د ګناه کولو سره زړه سختیږي، د رحم دِلئ جذبې د زړه نه اووځي ✿ نیک اَعمَال ښه ډیر کوئ چې د نیکو په برکت سره زړه صفا کیږي، په زړه کښې نرمي راځي- خاص طور د قرآنِ کریم تِلاوت کوئ، لمونځونه ادا کوئ، درودِ پاک زیات لولئ، د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! زړه نرم شي

---

[32]... تعارف امیرِ اہلسنت، صفحہ:44۔

[33]... تعارف امیرِ اہلسنت، صفحہ:45۔

❁ د ذِکر و اَذکار په برکتونو کښې يو دا هم دے چې د الله پاک د کوم نوم ذِکر چې زيات اوکړے شي، د هغه پاک نوم اثرات په طبيعت باندې پريوځي- ځکه د الله پاک د پاکو نومونو يارَحْمٰنُ، يَارَحِيْمُ ذِکر ډير زيات کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په زړه کښې به د رحم او شفقت جذبې زياتيږي ❁ هم دغه شان د درودِ پاک په برکتونو کښې دا هم دي چې کوم بنده زيات درودِ پاک لولي، هغه ته د خوږ آقا، د مکي مديني د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صِفتونو فيضان ميلاويږي- ځکه درودِ پاک ډير زيات لولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دوارو جهانونو د رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت او شفقت فيضان به ميلاويږي ❁ قبر او آخِرت هيرول د زړه د سختئ غټه او اهمه وجه ده- ځکه د رحم دِلئ د نعمت موندلو د پاره قبر او آخِرت يادوئ! هديرې ته تلل معمول جوړ کړئ، د هديرې والوؤ د پاره فاتحه شريف هم لولئ، ثواب هم وربخښئ، بيا لږ سعت کښينئ او د قبر، د هغه ځائے د ويرې، د قبر د تيرې، يواځې والي، وحشت، بيا د قيامت په ورځ د قبر نه پاڅيدل، د الله پاک په بارګاه کښې وړاندې کيدل وغيره، د دې ټولو معاملو په باره کښې غور کوئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! زړه به مو نرم شي او رحم دِلي به مو نصيب شي ❁ هم دغه شان د يتيمانانو په سر باندې لاس راښکل، د غريبانانو مدد کول، د بے وَسو ملاتړ جوړيدل هم رحم دِلي پيدا کوي- که چرې مونږه په زړه باندې بوج اوغورځوو او په نفسِ اَمَّاره باندې د خپو کيښودو سره د شفقت او رحم دِلئ څرګندونه اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په مزه مزه به په زړه کښې د رحم دِلئ جذبې کښيني او که رَبِّ کريم اوغوښتل نو رحم دِلي به زمونږه د طبيعت حِصَّه جوړه شي-

❁ د زړه سختي، د رحم دِلئ جذبې نه لرل، د دې يوه اهمه وجه بد صحبت هم دے- که د ظالِم طبيعت لرونکو سره کښيني نو زړه به سختيږي، ځکه د نيکانو، نرم زړه والا، رحم دِله خلقو صحبت خپل کړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د رحم دِلئ نعمت به مو نصيب شي-

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د فتنو نه په دې ډک دور کښې د عاشقانِ رسول ديني تحريک د دعوتِ اسلامي ديني ماحول د الله پاک لوئي نعمت دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي نيک، لمونځ ګزاره جوړولو والا، په ټوله دنيا کښې د سُنَّتو خپرونکے ديني تحريک دے- تاسو هم د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ، په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خير به مو نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې

يو ديني كار: **نيک اَعمَال** هم دے۔ دا وَړه شان رساله د مکتبة المدينه نه طلب کړئ او که اوغواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ (www.dawateislami.net) نه ئې ډاؤن لوډ کړئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې Naik Amal ايپلي کيشن انسټال کړئ، په دې کښې په مختلفو نيکو عملونو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي، د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې يو وخت مقرر کړئ او د خپلو عملونو جائزه اخلئ، او د هغې مطابق ژوند تيروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دې په برکت سره به د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذِهن جوړيږي، د زړه پاکي به نصيب کيږي او کردار به مو صفا ستهرا، ځلنده، ښکلے شي۔ راځئ د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## ټوله کورنئ سمه شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمونځونه قضا کول وغيره زما په معمولاتو کښې شامل وو، يو ځل زمونږه علاقې ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې يو اسلامي ورور ماته د ماښام د لمونځ کولو او بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام د لمانځه نه پس بيان ما له ډيره مزه راکړه، د بيان په آخره کښې مبلغ د **نيک اعمال** رسالې پيژندګلو اوکړه، په رساله **نيک اعمال** کښې د درج د نيکو نه ډک ژوند تيرولو مدني ګل ليدو سره ماته ډيره خوشحالي ميلاؤ شوه، د دې رسالې په شکل کښې د شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره د محنت ليدو سره ما لاس په لاس د بيعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بيزاره شوم او د نيکو طرفته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې د زړه نه خپل کړو، د دې په برکت سره هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په مزه مزه ټوله کورنئ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامې او سندرې باجې بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چينل په ځائے مدني چينل اولګيدو۔ (34)

| | |
|---|---|
| خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو | نیک ہو امَّت اے نانائے حسین |
| "مَدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل | نیک ہو امَّت اے نانائے حسین (35) |

[34] ...دلوں کا چین، صفحہ:4۔

[35] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:258۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې مدني انعامات ته اوس **نيک اَعمَال** وئيلے شي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مدني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مدني قاعِده ***(Madani Qaida)*** دے۔ په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مدني قاعِده او د دې آډيو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مدني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، په آډيو ***(Audio)*** کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مرستې سره په آسانئ سره مدني قاعِده لوستل، د دې مشق ***(Practice)*** کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ټيلي تهون (د عطياتو د مهم) ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي په ټوله دنيا کښې د نيکئ دعوت عام کوونکے ديني تحريک دے۔ د الله پاک په فضل سره ✿ دعوتِ اسلامي د 80 نه په زياتو شعبو کښې ديني فريضې ترسره کوي ✿ دعوتِ اسلامي اوسه پورې په زرګونو جُماتونه، په سوونو فيضانِ مدينه (مدني مرکزونه) جوړ کړي دي ✿ هلکانو او جينکو ***(Boys & Girls)*** ماشومانو ته د قرآنِ پاک بيل بيل تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً 6121 (شپږ زره 121) مدرسة المدينه جوړ کړے شوي دي، په کومو کښې چې تقريباً 2 لاکهه 70 زره 112 هلکانو او جينکو ماشومانو ته د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې مفت تعليم ورکولے شي۔ ✿ د نابينا ماشومانو د پاره هم بيل مدرسة المدينه جوړ کړے شوي دي۔ د شروع نه تر اوسه پورې تقريباً 4 لاکهه 39 زره 940 ماشومانو د ناظرې او د قرآنِ پاک حفظ مکمل کړے دے ✿ عِلم ته د وَدې ورکولو (د عالِم او عالِمې کورس کولو) د پاره بيلې بيلې جامعة المدينه جوړې کړے شوې دي۔ اوسه پورې تقريباً 1309 جامعة المدينه (د هلکانو او جينکو د پاره) جوړې کړے

شوې دي، په کومو کښې چې تقريباً 1 لاکھ 17 زره 402 جينکو او هلکانو طالب علمانو ته درسِ نظامي (د عالِم او عالِمې کورس، فيضانِ شريعت کورس) مفت کولے شي- اوسه پورې تقريباً 16 زره 117 عالِم او عالِمه کورس، فيضانِ شريعت کورس مکمل کړے دے- په لکونو حافظان، قاريان، امامان، مبلغ، مُعَلّم، عالِم او د مفتيانو تيارولو سره سره د اُمّت د اِصلاح او کردار سازئ کار روان دے ❀ د يو درځن نه زيات دارُ الافتاء اهلِسُنَّت جوړ کړے شوي دي، چرته چې مفتيانِ کرام د اُمَّت په شرعي لار ښودنه کښې مصروف دي ❀ په المدينة العلميه ***(Islamic Research Center)*** کښې په مختلفو موضوعاتو باندې په سوؤنو ديني کتابونه چاپ کړے شوي دي ❀ فيضان آن لائن اکيډمي (د جينکو او هلکانو د پاره) جوړې کړے شوي دي د کومو په ذريعه چې آن لائن عالِم کورس، قرآنِ پاک (حفظ او ناظره) ښودلے شي، د 30 نه زياتو آن لائن کورسونو په ذريعه په 77 ملکونو کښې خلقو ته په خپل کور کښې د عِلمِ دين رنړا رسولے شي ❀ د "مدني چينل" په ذريعه په 6 سيټلائټس باندې په اُردو، انګلش او بنګالئ ژبو کښې د دين ښه خدمت کيږي ❀ د FGRF شعبې په ذريعه د اولسي خير ښيګړې د فريضو سلسله هم روانه ده-

په 13 نومبر کال 2022ء د اتوار په ورځ د ټيلي تهون (يعني د عطياتو د مهم سلسله) کيدونکې ده، **تاسو هم د دين د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! د دين د خدمت د ټولو شعبو د ټولو خرچو د پاره د دعوتِ اسلامي ټرسټ سره مرسته اوکړئ-** يو يونټ: 10زره روپئ دے- څوک چې يو يونټ ورکولے شي، هغوئې دې يو ورکړي، څوک چې 12 ورکولے شي، هغوئې دې 12 ورکړي، د چا چې څومره همت وي، د چا چې څومره وَس وي- بهر حال! په ټيلي تهون کښې حِصه ضرور شامِله کړئ! د الله په لار کښې خرچ کول د تقوىٰ والوؤ په بنيادي صفتونو کښې دي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ لِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ<br>(پاره: 27، سورهٔ حديد: 10) | ترجمهٔ کنزُ العرفان: او په تاسو څه شوي دي چې تاسو د الله په لار کښې نه خرچ کوئ حالانکه د آسمانونو او د زمکې ټولو وارث الله دے- |

د دې آيت لاندې په **تفسير صراط الجنان** کښې دي: تاسو په کومه وجه باندې د الله پاک په لاره کښې نه خرچ کوئ حالانکه د آسمانونو او د زمکې هر څه مالک الله پاک دے هغه هميشه پاتې کيدونکے دے ولې تاسو به مړه شئ او ستاسو مال به د هغه په ملکيت کښې پاتې شي او تاسو ته به د نه لګولو په شکل کښې ثواب هم نه

میلاویږي، ستاسو د پاره بهتره دا ده چې تاسو خپل مال د الله پاک په لاره کښې اولګوئ د پاره د دې چې د دې په بدله کښې خو ثواب بیاموموئ- (36)

معلومه شوه! چې د الله پاک په لاره کښې په خرچ کولو کښې زمونږه فائده ده- که چرې مونږه د دین مالي خدمت پریږدو نو جُماتونه به څنګه جوړیږي؟ لکونه حافظان به څنګه تیاریږي؟ په زرګونو عالِمان، د 80 نه زیاتې دیني شعبې به څنګه کار کوي؟ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي د دین خدمت کوي، دعوتِ اسلامي **جُماتونه جوړ کړئ تحریک** هم دے، دعوتِ اسلامي **جُماتونه ډک کړئ تحریک** هم دے او د الله پاک په فضل سره دعوتِ اسلامي **ایمان بچ کړئ تحریک** هم دے- دعوتِ اسلامي زمونږه نسلونه بچ کوي- کور کور ته د نیکئ دعوت رسوي او کورونه د امن نه ډکوي- که چرې مونږه د دعوتِ اسلامي ملاتړ اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې فائده به مونږ او زمونږ نسلونو ته رَسي- څکه هِمت اوکړئ! د زړه د اِخلاصه د الله پاک په لار کښې خرچ کړئ! د دعوتِ اسلامي ملاتړ اوکړئ! که الله پاک اوغوښتل نو د دین او دنیا برکتونه به مو نصیب شي- الله پاک دې مونږ له د دین د خِدمت توفیق راکړي-

آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼرو!** بیان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضیلت او د ژوند د ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- (37)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په څناورو باندې رحم کول د مصطفٰے سُنَّت دي

**د مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامین:** **(1)** تاسو د دې بے زبانه څناورو په باره کښې د الله نه ویریږئ دوئي ته

[36]...تفسیر صراط الجنان، پاره:27، سورۂ حدید، زیرِ آیت:10، جلد:9، صفحہ:721۔

[37]...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

هغه وخت ورخيژئ کله چې دوئي په ښه حالت کښې وي او په دوئي ښه خوراک کوئ- [38] **(2)** په هر رُوح لرونکي باندې د شفقت [کولو] اجر ميلاويږي- [39]

**اے عاشقانِ رَسُول!** په ځناورو باندې رحم کول د **مصطفٰے سُنَّت** دي ❁ رحمتِ عالم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په ځناورو باندې ډير شفقت کولو ❁ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ځناورو فرياد اوريدلو او د هغوئي مدد به ئې کولو ❁ يو ځل هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو اوښ په فرياد باندې د هغه مالک ته اوفرمائيل: ته دا وږے ساتې او کار پرې زيات کوې [40] ❁ که چرې چا به ځناورو ته تکليف رسولو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خفه کيدل ❁ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ځناورو په خپل مينځ کښې د جنګولو، هغوئي د تړلو سره د وهلو، او د هغوئي د شکل بدلولو نه منع فرمائيله- [41]

| | |
|---|---|
| ہرن نے، اونٹ نے، چڑیوں نے کی یہی فریاد | کہ ان کے غم کا مداوا حضور جانتے ہیں |

الله پاک دې مونږ له هم د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّت باندې د عمل کولو او په ځناورو باندې د شفقت کولو توفيق راکړي-

آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو کتاب **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

| | |
|---|---|
| غم کے بادَل چھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو |
| رب کے در جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[38]... ابوداؤد، کتاب:جہاد، صفحہ:408، حدیث:2548۔

[39]... بخاری، کتاب :مظالم وغصب صفحہ:635، حدیث:2466۔

[40]... ابوداؤد، کتاب:جہاد، صفحہ:408، حدیث:2549 خلاصۃً۔

[41]...سیرت رسول عربی، صفحہ:332تا 335ملتقطاً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې

## لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره ڪم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[42] راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريڪه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[43] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريڪه اووائيو.

---

42… افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون،ص۱۵۱ملخصًا
43… القول البديع،الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرگانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[44] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[45] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[46] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[47] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

---

44... افضل الصلوات على سيد السادات،الصلاة الثانية والخمسون،ص۱۴۹
45... القول البديع،الباب الاول،ص۱۲۵
46... الترغيب والترہيب،كتاب الذكر و الدعاء،۲/۳۲۹،حديث:۳۰
47... مجمع الزوائد،كتاب الادعية،باب فى كيفية الصلاة...الخ،۱۰/۲۵۴،حديث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[48] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

48... تاريخ ابنِ عساکر،۱۵۵/۱۹،حديث:۴۴۱۵